مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سلطان جان کلیوال
۲۰۱۸/۱۲/۰۶

# زموږ دُعا

ســتا درګاه ته لپـه کړی مـو لاسـونه
پاکه خدایه کړه منظور زموږ سوالونه

د جګړو اورونه مړه کړه دی دنیا کی
غمجن مکړه په اولاد میندی پلرونه

د شیطان له وسواسو انسان آزاد کړی
هم یی پاک کړی له کیني-کرکي نه زړونه

لکه څومره چی ښایسته زموږ دنیا ده
هسی ښکلی کړی الله ج زموږه فکرونه

پیژندني ته د ځان راکړی قدرت ته
لنډ مو کړه له بدو کړو نه اندامــونه

د پوهاوی توفیق را کړی یو تر بله
برابر مو کړی واړه ، لوی عملونه

چی هم وکړو عبادت هم د دنیا کار
د انسان په نوم یو بل سره شو ورونه

موږ جوګه کړی چی تمیز وکړو په عقل
او مات نکړو بی تمیزه د چا زړونه

په نفسونو غلبـه راکړی خاونـــده !
چی کړو پاک له کراهته خپل نفسونه

خدایه میندی بوری مکړی تردی ډیری
په لمسیانو غمجن مکړی نیا نیکونه

کلیوال درته ولاړ لاس په دُعا دي
دی زموږ نړی نه محوه کړی ظلمونه

آمین
دسمبر/۰۳/۲۰۱۸
تورنتو ـ کانادا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولــئ